## فقر او نا برابري

فقر او نا برابري، د دریمي نړۍ هیوادونو په ځانګړې توګه افغانستان کي یوه همېشنۍ ستونزه ده، چي له کلونو کلونو را هیسي د دغي پدیدې د له منځه وړلو لپاره په میلیاردونو ډالره نړیوالي مرستي راغلې؛ خو هیڅ پایله ئې ور نه کړه او نه هم د افغانانو په ژوند کي کوم مثبت بدلون رامنځته سو. ممکن د دې ناوړه پدیدې په هکله ډېري کرښي کښل سوي وي؛ خو زه غواړم په پیل کي د بېوزلۍ او نا برابرۍ تعریف د نړیوال بانک او د ملګرو ملتونو د سازمانونو د تعریف پراساس تاسو ته وړاندي کړم. د نړیوال بانک د تعریف پر اساس بېوزلي د خوراکي توکو، جامو او سرپناه په شمول د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره کافي امکانات او پیسې نه لرل دي؛ فقر لوږه ده او غربت د سرپناه نشتوالی دئ.

**بل پلو بیا ملګرو ملتونو نا برابري دا ډول تعریف کړې ده:**

هغه حالت چي مساوات پکښي نه وي؛ لکه: د اوسېدلو ځای، برابر حقوق، کاري فرصتونه او داسي نور... دې ته نا برابري ویل کېږي. په افغانستان او دریمه نړۍ هیوادونو کي د فقر او نا برابرۍ ډېری عوامل سته، چي غواړو څو مهمو ته ئې په لاندي ډول اشاره وکړو.

**نابرابري:**

د اقتصاد او یا هم د عاید له نظره ویلای سو، چي ټولنه په دریو برخو وېشل سوې ده: لوړه کچه، منځنۍ کچه او ټیټه کچه. اقتصادي نا برابري د افرادو د عایداتو او شتمنیو ترمنځ توپیر ته اشاره کوي، چي دغه حالت په ټولنه کي د خلکو ترمنځ نا انډولي رامنځته کوي، کمزورې طبقه بیا د تحقیر او کمزورۍ احساس کوي او خپل باور له لاسه ورکوي، د دغو عواملو په پایله کي دوی نه سي کولای، چي د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره هڅه وکړي؛ بلکي په دې حس ژوند کوي، چي نه د خلکو لپاره او نه هم د ټولني لپاره آغېزمن ثابتېدای سي.

**د ښښلو پاکو اوبو او خوندي خوړو ته نه لاس رسی:**

افغانستان هغه هیواد دئ، چي د پاکو اوبو او خوندي خوړو په موندلو کي له ننګونو سره مخ دئ، خلک ئې خپلو کورنیو ته د خوړو په پیدا کولو کي پاتي راغلي دي. د نړیوالو سازمانونو له خوا وړاندي سوي ارقام

ښيي، چي افغانستان د نړۍ له هغو بې وزلو هيوادونو څخه دئ، چي د ناخالصو توليداتو کچه ئې ټيټه ده او دوی نه سي کولای، چي د خپلو کورنيو د ژوند د دوام لپاره لومړنۍ اړتياوي پوره کړي. د بشري مرستو ډېری سازمانونه په افغانستان کي کار کوي؛ خو تر اوسه هم نه دي بريالي سوي، ترڅو يادو کړاوونو ته د پای ټکی کښېږدي. د دې ټولو نا خوالو لامل دا دئ، چي دا بشردوستانه مرستي زموږ د ګران هيواد پر اقتصادي، ټولنيزو او سياسي برخو آغيزه نه کوي، اکثريت مرستندويان د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره کار کوي او هغه پيسې، چي د يادو سازمانو له لوري هيواد ته راځي په مختلفو نومونو او بهانو بيرته له هيواد څخه ايستل کېږي. افغانستان په خپله ډېري سرچينې لري، چي کولای سي يادو ستونزو ته د پای ټکی کښېږدي؛ لکه: سيندونه، کانونه، زراعت... خو ستونزه دا ده، چي د څه باندي څلورو لسيزو جګړو او د بهرنيو هيوادونو د لاسوهنو له امله افغان حکومت د خپلو اوبو په مديريت کي پاتي راغلی وو او د دې ستونزو د له منځه وړلو لپاره ئې خپلو خلکو ته کافي خدمات نه وو وړاندي کړي.

**کمزوري پوهنيز نظام:**

د پوهي ډګر ته د را ستانه سوي نسل لپاره په افغانستان کي د ښووني او روزني د ښه سيستم نشتوالی يو له سترو اندېښنو او ننګونو څخه ګڼل کېږي، چي موږ په تېرو څلورو لسيزو کي له دې ناخوالي سره مخ وو، زموږ ډېری هېوادوال بې سواده پاتي سوي او هغه څوک، چي د زده کړي هڅه کوي د ښووني او روزني له کمزوري سيستم سره مخ کېږي.

**شخړي:**

ډېره نابرابري کولای سي باور او ټولنيز يووالي ته زيان ورسوي، چي په دې توګه له شخړو سره هم تړاو لري، شخړي په ځانګړې توګه د ګډو سرچينو په مديريت کي شتون لري، يا هم نابرابري د شخړو حل کول خورا ستونزمنوي؛ د مثال په توګه، په (۲۰۰۵) کال کي اقتصادي کار پوه (بردهن) پخه خبره وکړه: (په پراخه توګه، نابرابري د شخړو په اقتصاد آغيز کوي، ځکه چي دا ممکن د ځينو ډلو لخوا احساس سوي شکايتونه پياوړي کړي يا کولای سي د تاوتريخوالي د پيلولو او يوځای کېدو فرصتي لګښتونه کم کړي.)

افغانستان په وچه کي راګير هيواد دئ، چي د مرکزي، لوېديځي او جنوبي آسيا د سيمو په څنډه کي پروت دئ، ډېره برخه ئې د سترو سترو غرونو لړۍ پوښلې ده. د هندوکش غرونه، چي لوړوالی ئې تر (۷۰۰۰) مترو پوري رسېږي، په ټيټه ارتفاع کي ئې د وچ ستيپ پراخه سيمه او په سويل لوېديځ پلو کي ئې د پام وړ دښتي او رغونه شتون لري. د افغانستان ټولني له قومي او کلتوري پلوه متنوع دي او په عمومي ډول لږ ښاري سوي دي. د اوږدې جګړې او سياسي ناکراريو په پايله کي د افغانستان نفوس د نړۍ په کچه تر ټولو بې برخي دئ، په (۲۰۱۷م) کال کي د ملي بېوزلۍ کچه له (۵۰) سلني څخه زياته سوه او وګړي ئې هم له خورا ځوروونکي ستونزو سره مخ دي، او د ښې زېربنا نشتوالی يو بل عام فکتور دئ، چي افغانستان ئې له ستونزو سره مخ کړی دئ. په افغانستان کي اوسنی حاکم نظام (اسلامي امارت) کولای سي دغي چاري ته د ښه مديريت په مټ د پای ټکی کښېږدي او دا هيواد نور له فقر او بېوزلۍ څخه وژغوري.

محمد ضمير ستانکزی